عبدالله احسان

هالنډ، ۲۰۱۲/۰۹/۱۸

# خپلواکي انټرنټي رسنۍ اصلاحاتو ته اړتیا لري

لومړنۍ خپلواکه پښتو ویبپاڼه په ۱۹۹۸ کال کي رامنځته سوې ده، هیواد ډاټ کام نومیږي چي په دې وروستیو کي له نظره غورځېدلي خو اوس هم فعالیت کوي، تر هغه وروسته په پرله پسې توګه په انټرنټ کي پښتو ویبپاڼي رامنځته سوې چي اوس ښایي د پښتو ویبپاڼو او بلاګانونو شمېر تر پنځو سوو هم زیات وي خو د ګوتو په شمېر پښتو ویبپاڼي د ګوتو په شمېر یو څو ځوانانو په لګښت ، هاند او هڅو د کلونو راهیسي د خلکو په منځ کي شهرت لري او هره ورځ په پراخ شمېر لوستونکي او کتونکي لري.

موږ د افغانستان لپاره د ویبپاڼو چلوونکي په ځانګړې توګه د پښتو ویبپاڼو مسولین په پرله پسې توګه د خپلو لوستونکو ددې نیوکو سره مخامخ یو چي وایي ټوله ویبپاڼي د لیکنو له مخي یو بل ته ورته دي ، فقط د ویبپاڼي نوم او رنګ فرق لري د ویبپاڼي محتوا خصوصاً د لیکنو برخي ته په کتلو سره فکر کېږي چي دغه حالت نور د لوستونکو د پاره سرسامومنکۍ دی.

نه یوازي دا چي پر ځای نیوکه ده بلکي زما په نظر دغه حالت د پښتو ویبپاڼو ارزښت ته هم زیان رسولی دی خصوصاً هغه په خپلواکه توګه د خپل ولس او هیواد خدمت او د علمي ، فرهنګي او معلوماتي چارو د پرمختګ د پاره په وړیا توګه کار کوي.

موږ د وتلیو او معتبره افغاني ویبپاڼو مسولینو په پرله پسې توګه په دې اړه فکر وکړ او د ستونزو د حل پر بېلابېلو لارو وږغېدو. موږ په لومړي ځل په مستعارو نومونو د هغو لیکنو مخه ونیوله چي زموږ د څېړنو له مخي ۹۰ سلینه یې د شخصي ګټو یا بېلابېلو استخباراتي پلانونو پر اساس لیکل کېږي، د اشخاصو د بلاک مایل کېدو، شخصیتونو د ترور او یا دې ورته موخو پر اساس د انټرنټي سایټونو د امکاناتو څخه په سوءِ استفاده خپرېدلې.

د لراوبر ویبپاڼي د پالیسۍ له مخي د اړتیا پر مهال اوس هم ځینو موضوعاتو ته د خپراوي چانس ورکول کېږي خو په دې شرط چي لیکوال یې موږ ته ځان راوپېژني، د مستعار نامه اړتیا روښانه کړي او موضوع د افغانستان او افغانانو په ګټه وي، نه د یوه شخص ، ډلي یا ګروپ په ګټه یا پر خلاف.

موږ ځکه غواړو چي دمستعار نوم کاروونکی همکار وپېژنو چي د اړتیا پر مهال دموضوع په اړه نور جزیات، اسناد او شواهد ترې وغوښتلای سو او دداسي لیکوال هویت ساتل به زموږ له لومړیتوبونو څخه وي.

دغه چاره مو عملي کړه، ستونزمنه وه خو ډېره ښه نتیجه یې ورکړه، زموږ کتنپلاوي او تخنیکي همکارانو ته دداسي لسکونو د کتلو پر ځای اوس په هغومره وخت کي د مهمو موضوعګانو د څېړلو او بېلابېلو نورو اړینو چارو د پاره وخت و سپمېدئ، چي دې چاري هم مهاله زموږ د ویبپاڼي د لوستونکو شمېر نور هم ورځ په ورځ زیات کړ.
د یادو اصلاحاتو په لړ کي نن دادی خپل دوهم پلان هم اعلانوو :

موږ د خپلو قلمي همکارانو څخه په ډېر درناوي هیله کوو چي یوه موضوع ، لیکنه یا سیاسي تحلیل او تبصره د یوې رسنۍ لپاره وکړي او یوې رسنۍ ته یې ولیږي ، لیکوال د رسنیو تر منځ په انتخاب کي په تمامه معنا ازادي لري چي هري یوې رسنۍ ته یې خوښه وي، هلته دي خپله لیکنه ولیږي . نوري رسنۍ به د موضوع ارزښت، د لیکني کیفیت او د لیکوال شهرت ته په کتلو سره د لومړنۍ رسنۍ څخه د لیکني اخستلو او په خپله ویبپاڼه کي د خپرولو پریکړه کوي خو په دې شرط چي د لومړنۍ رسنۍ نوم به ورسره لیکي چي دا په ټوله نړۍ کي د رسنیو یو منل سوئ اصل هم دی.

هغه محترم لیکوال چي تر دې وروسته هم د خپلي لیکني لپاره یوه ویبپاڼه ونه ټاکي او پر یوه ځای یې ډېرو ویبپاڼو ته ولیږي، له موږ څخه دي د خپلي لیکني د خپراوي هیله نکوي ، ځکه د انټرنټي رسنیو توپیر له نورو ټولو رسنیو څخه دادی چي په انټرنټ کي یوه لیکنه تر هره وخته پوري پاته کیدای سي او په یوه لویه یا وړه ویبپاڼه کي خپره سوې لیکنه د ګوګل غوندي لټون سیستمونو په مټ په اساني سره د نړۍ په هر ګوټ کي هر وخت پیدا کیدای سي


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي په دې توګه په بېلابېلو ويبپاڼو کي د يوې موضوع خپرول بېله دې چي د ويبپاڼي د چلوونکو او لوستونکو وخت ونيسي نوره ګټه نلري.

ځينو کسان ښايي په دې نظر اوسي چي هره پښتو ويبپاڼه ځانګړي لوستونکي لري ، خو زموږ د پلټنو پر اساس موږ ډېر لږ داسي کسان په نښه کړل چي هره ورځ يوازي د يوې پښتو ويبپاڼي په کتلو بسنه وکړي. اکثريت لوستونکي انټرنټ ته د لاس رسي پر وخت لږ تر لږه درې څلور او په اوسط ډول پنځه بېلابېلي ويبپاڼي تر نظر تېروي، په دې توګه هيڅ اړتيا نه ليدله کيږی چي يوه ليکنه دي په دې درو ، څلورو يا پنځو پښتو ويبپاڼو کي خپره سي.

زموږ د پلټنو پر اساس هغه ليکني تر نورو ډېري لوستل سوي، ډاونلوډ او پرنټ سويدي چي په نورو ويبپاڼو کي نه وي خپرې سوي، برعکس هغه ليکني چي لوستونکي يې د هري ويبپاڼي په پرانستلو سرليک ويني په هره ويبپاڼه کي تر ټولو لږ پرانستل سوي اولوستل سوي دي ، له دې امله موږ پر خپلو ټولو محترمو ليکوالو ږغ کوو چي تر دې وروسته د خپلي هري يوې ليکني لپاره د ټولو يا څو ويبپاڼو پر ځای يوه ويبپاڼه وټاکي، هغه ليکوال چي د ښه نيت له امله د دوو درو ويبپاڼو سره همکاري کول غواړي کولای سي چي د اړوند ويبپاڼي د پاليسۍ او تګلاري په پام کي نيولو سره خپله هره ليکنه يوې بلي ويبپاڼي ته ولېږي، په دې توګه موږ نه يوازي له دغسي ليکوالو څخه خوا نه بدوو، بلکي ترې خوشاله به يو چي د پښتو ژبي، پښتو ليکوالۍ او پښتو ويبپاڼو د کيفيت په لوړولو کي يې هڅه کړې ده نه يوازي د خپل شهرت لپاره.

دغه تګلاره به په لومړيو اوونيو کي ازمايښتي بڼه ولري خو، باور لرم که زموږ درانه قلمي همکاران په دې برخه کي همکاري وکړي دا به د افغانستان او افغانانو په ګټه او د پښتو رسنيو د پرمختګ په لاره کي ډېر اغېزناک ثابت سي. زه د هغو ويبپاڼو له چلوونکو مننه کوم چي د ويبپاڼو ترمنځ د همږغۍ او اصلاحاتو په لړ کي يې دلومړني او دوهم ګام په پورته کولو کي د همږغۍ ځيګر وټکاوه او عملي ملاتړ يې وکړ.

په افغانستان کي د خپلواکو رسنيو د لا اغېزمنتوب او پرمختګ په هيله. په درناوي

د لراوبر ويبپاڼي


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ